د نورالمدارس فاروقیه عالي د بندیدو په تړاو اعلامیه

درنو او متدینو هیوادوالو !

لکه څرنګه چې تاسو خبر یاست نورالمدارس عالي فاروقیه مدرسه له ابتداء نه تر اوسه پورې د تاریخ په اوږدو کې په دیني او عصري علومو کې د هیواد له ګوټ ګوټ څخه زرګونه طالب العلمان، علماء کرام، محصلین او نوابغ روزلي او هم یې په سیمه کې د عامو او خاصو لپاره د علمي او روحاني تربیې د مرکز په حیث د خپلو مشائخو او استاذانو د زحمتونو او د عامو مخلصو مسلمانانو په اعانه، چنده او بسپنو په نتیجه کې د یوه مستقل علمي او تربیوي بنسټ په توګه خپل فعالیت او خدمت په مستقله او بې پرې توګه په ډېرو سختو او ترینګلو شرایطو کې پر مخ وړی دی.

د څو لسیزو ناخوالو ، دربدریو او ستونزمنو شرائطو څخه راوتلو وروسته هم، په فعلي شرائطو کې هم د دې مدرسې ادارې د محترمو استادانو او شاګردانو په سیمه کې د ناامنه وضعیت ، بمباریو او چاپو سره سره په ډېره مېړانه او شهامت د تعلیم او تربیې سلسله جاري ساتلې، که څه هم له بده مرغه په دې وروستیو کې د هېواد د علم او عرفان دښمنانو د کوښښ کړی، چې د دغه دیني او تعلیمي بنسټ چارې او فعالیت له خنډ سره مخ کړي او په مختلفو بهانو ورته مشکلات ایجاد کړي.

د نورو جزئي مشکلاتو او ستونزو سربېره، یوازې د تېر تعلیمي کال په جریان کې دوه ځلې د حکومتي امنیتي ځواکونو له لورې زموږ د سابقه لرونکې ، لرغونې ، تاریخي علمي او روحاني مدرسې پر حریم تیری وشو ، چاپې ووهل شوې، د مدرسې د لیلیې اطاقونو او صنفونو ته زیان واوښت، د درس او تدریس چارې یې له خنډ سره مخ شوې، او ډېره ناوړه دا چې استادان او لسګونه شاګردان پکې توهین، ووهل شول، بندیان شول او له نورو ډول ډول تکلیفونو سره مخامخ شول.

هیوادوال شاهدان دي،چې د علم او عرفان دښمنانو د ړندو عملیاتو او بمباریو په نتیجه کې په کندز ، بغلان، هلمند ، میدان وردګ، روزګان ، پکتیکا ، ننګرهار،غزني او د تګاب د میا صاحب د تاریخي مدرسې د ویجاړولو صرفه ونه کړه. نو لهذا د نوي تعلیمي کال د را رسیدو سره سم د نورالمدارس فاروقیه عالي مدرسې ادارې د مدرسې، استادانو او شاګردانو د امنیت او خوندیتوب په خاطر د هېواد په مختلفو سیمو کې د روانو شپنیو ړوندو عملیاتو ، چاپو او روانې نا امنۍ تر ورکېدو پورې او په ټوله کې د یوې بشپړې صلحې تر قائمېدو پورې د مدرسې د بندولو پریکړه کړې.

موږ یو ځل بیا د هېوادو د ټولو دیني او عصري مدارسو ، پوهنتونونو ، علمي او تربیوي بنسټونو په استازیتوب د دیني او تعلیمي حلقو ، درسګاوو ،خانقاوو ، مسجدونو او په ټوله کې د دیني شعایرو د

توهین، ورانولو ،بمبارولو او د ناوړه استفادې اجازه هېچا ته نه ورکوو، په ځګړه پر ښکېلو خواوو غږ کوو، چې د جګړې په ترڅ کې د مسجدونو، مدرسو او د تعلیمي بنسټونو له ویجاړولو او د جهالت په تیارو کې د ملت له ساتلو نه لاس واخلي او پرېږدي چې د دې مظلوم مسلمان ملت بچیان د وحشت او جهالت له فضاء لیرې د تعلیم او تربیې په مټ د دنیوي او اخروي سعادت او پوهې څخه برخمن شي.

د نورالمدارس فاروقیه عالي مدرسې اداره

مستوفي بازار،شلګر، غزنی ، افغانستان

۱۴۴۰هـ ق/رمضان المبارک/۰۸ –۲۲/ثور/۱۳۹۸هـ ش--- ۲۰۱۹م/۰۵/۱۳